# د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونځيو ته د ودر ورکولو لپاره د نوري ارزونې پروګرام ته لنډه کتنه

د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې د څارنې او ارزونې له څانګې څخه ښاغلي حفيظ الله نهضتيار تشريح کړه، په دې پروګرام سره، ارزونې د مسکلي روزونکو لخوا ترسره کېږي او رغنده نظرونه يې په مستقيم ډول له سرښوونکو، ښوونکو او د ولايت په کچه د پوهنې رياستونو سره شريکېږي. ښوونکي بيا کولای شي د ارزونې د ډلې د سلا او مشورو په کارولو سره خپل فعاليت ته ورکړي.

د افغان – آلمان همکارۍ اداره د تخنيکي او مسلکي زده کړو له ادارې سره يوځای وار دمخه د تخنيکي او مسلکي زده کړو په ۱۳ ښوونځيو کې د ښوونځي د فعاليت ارزونې پروګرام پيل کړی چې اووه نور به يې د سپټمبر په مياشت کې پيل شي. دا ارزونه د ماسټر روزونکو لخوا د جوړ شوو پوښتنليکلو له لارې ترسره کېږي چې اکثره د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ادارې کارکوونکي او مسلکي روزونکي تشکيلوي. په هدف شوو ګروپونو کې ښوونکي، اداري کارکوونکي او سرښوونکي شامل دي. دا ارزونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونځيو پر څلورو عمده برخو تمرکز لري: د تدريس کيفيت، د بشري سرچينو پراختيا، د اداري مهارتونو مديريت او د کار زده کړې مديريت.

له ارزونې څخه رامنځته شوې پايلې به د تخنيکي او مسلکي زده کړو له ادارې سره مرسته وکړي څو په دغه څلورو عمده برخو کې وده وکړي او د لا زياتو روزنيزو پروګرامونو د هر ډول اړتيا په ګوته کولو کې به هم مرسته وکړي. د ارزونې پروګرام د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونځي او مؤسسې هڅوي څو د تر هدف لاندې د تدريس اغېزمن کيفيت او د ښوونځي د فعاليت تضمين لپاره اقدام وکړي.

نوموړی کانفرانس د ارزونې د بهير په اړه په يوې لنډې پېژندنې سره ترسره او له ارزول شوو ښوونځيو څخه د لومړنيو پايلو په شريکولو سره ادامه مومي. د تعليمي نصاب او تدريسي پلانونو د پرمختګونو په ګډون برياليتوبونه په نښه شوي او د امنيتي ستونزو، په ناکفي اندازه زېربناوو او سرچينو په څېر ننګونې حل کړل شوي دي. د رغنده نظرونو په اړه د بحثتونو د يوې برخې په توګه، ګډونوالو د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونځيو او مؤسسو کې د خدمتونو د کيفيت په اړه د پرمختګونو وړانديز کړی دی.

د کانفرانس په دويمه ورځ، د کيفيت ارزونې د ثبات او اداري کولو (**Institutionalization**) په اړه بحث وشو. په دې تأکيد وشو چې د ټولو ولايتونو د پوهنې رياستونه بايد د تخنيکي او مسلکي زده کړو په ټولو ښوونځيو او مؤسسو کې ورته ارزونه پلي او تطبيق کړي. دا کار به په نهايت کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو په ښوونځيو کې د تدريس کيفيت ته په وده ورکولو سره خدمت وکړي.

*په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو (**TVET**) د ملاتړ پروګرام د آلمان د اقتصادي همکارۍ او پراختيا وزارت (**BMZ**) په استازيتوب د آلمان نړيوالې همکارۍ ټولنې (**GIZ**) او د آلمان **KfW** پراختيايي بانک لخوا تطبيقېږي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره (**TVET**) موخه لري څو د افغان ځوانانو د کار موندنې د کچې لوړولو لپاره په افغانستان کې د رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو سيستم ته پراختيا او وده ورکړي. سربېره پردې، دا پروګرام د شاګردۍ/کار زده کړې عنعنوي سيستم – استاد شاګردي – د افغانستان د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ادارې په مرسته عصري کوي. د درې کلونو لپاره د استاد شاګردۍ سربېره د تخنيکي او مسلکي زده کړو له رسمي ښوونځي څخه له فارغېدو وروسته، کار زده کوونکي/شاګردان کولای شي چې د دولسم ټولګي شهادتنامې ته عريضه وکړي چې دا شهادتنامه ډېرو ځوانانو ته اجازه ورکوي څو لوړې زده کړې وکړي.*

Teaser text:

هرات، د ۱۳۹۸ کال د وږی۱۰ مه نېټه ـ د چهارشنبې او پنجشنبې په ورځو، له ۱۵ ولايتونو څخه ۶۰ ګډونوالو، نارينه او ښځينه وو، په هرات ولايت کې په يوه کانفرانس کې ګډون وکړ څو د ښوونځي د فعاليت ارزونې پروګرام د آزمايښتي پړاو پايلو ته لنډه کتنه وکړي. د ارزونې دا پروګران چې د دې کال د اپريل په مياشت کې پيل او د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر تر مياشتې پورې ادامه لري او د تخنيکي او مسلکي زده کړو په

ښوونځیو کې د ښوونځي د فعالیت او د تدریس کیفیت ته وده ورکول د دې پروګرام موخه ده. د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ګډون کوونکو ښوونځیو څخه د سرښوونکو، د ولایت په کچه د پوهنې رئیسانو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ادارې څخه د چارواکو په ګډون د کانفرانس ګډونوال سره را یوځای شول څو د دغه پروګرام د بریالیتونو او ننګونو په اړه بحث وکړي. د افغان – آلمان همکاری اداره له مالي پلوه له دغه پروګرام څخه ملاتړ کوي.

Downloads:

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ښوونځیو ته د ودر ورکولو لپاره د نورې ارزونې پروګرام ته لنډه کتنه

Image:

PR_TVET_Conference on SFA Review

د خبر ډول:

Press release

10.06.1398

- English
- Deutsch
- دری